مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۵/۲۳

د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد جهاد

د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

اوه ویشتمه برخه

بل ځای باران او واورې سپینې اوري
پـر مـور مـدام دلـته سرې وینې اوري

دا مـو د چـا ښـېـرا کوم وخت اخیستي
دلـتـه نـفـرت بـل ځای کې مـینـه اوري

(تاج محمد یاري)

څوک کولای شي چې د دې کوچني د مور پلار د زړه حالت د قلم په ژبه ولیکي؟

اوس په عملي ډول لیدل کېږي چې په افغانستان کې د لویانو تر څنګ، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد هم جهاد اعلان شوی دی او له همدې سن نه یې د له منځه وړولو کار پیل شوی دی. دا د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد د تاوتریخوالي تر ټولو ظالمانه ډول دی چې په افغانستان کې یې مسلمان پر مسلمان تطبیقوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما **«د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سوناميي»** ترسرلیک لاندې ګڼې مقالې لیکلې دي او لا د څو مقالو له ټولګې نه مې یو کتاب «د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه» د دې له پاره خپور کړی دی چې که زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره د روان تاوتریخوالي نه خلک خبر او د مخنیوي له پاره یې څه وکړي، خو داسې لیدل کېږي چې زموږ په ټولنه کې هر څه سرچپه روان دي؛ د دې پر ځای چې له ماشومانو سره تاوتریخوالی یا بیخي ودروي او یا یې لږ راټیټ کړي، برعکس نور هم مخ په ډېرېدو دی او اوس په لغمان کې د رواني ناروا چګړې په ترڅ کې یې داسې یو کوچنی په وینو لیت پیت او وزلی چې د انسان پرېږده چې د څارویو به اوښکې ورته تویې شي.

ما د پاسني یاد کتاب په پیل کې داسې لیکلي وو:

«ما د دې کتاب د مقالو په ترڅ کې ویلي او لیکلي دي چې زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو زموږ په هېواد افغانستان کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې سوناميي حیثیت لري، چې زموږ د ټولنې په یوې محسوسې او عیني ستونزې بدله شوې ده. دا سوناميي تر اوسه زموږ هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشل شي:

۱ ـ رواني تاوتریخوالی:

(ژبنی تاو تریخوالی: ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول ـ ډول نور رواني فشارونه)،

۲ ـ جسمي تاوتریخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته اړایستل)،

۳ ـ جنسي تاوتریخوال.

زموږ په هېواد افغانستان کې، زموږ د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد د تاوتریخوالي دا درې واړه ډولونه ښه په درز کې روان دي او مجریان یې د بېلابېلو نومونو تر پردې لاندې، د خپلو اعمالو د توجې له پاره دلایل هم وړاندې کوي.»

خو چا ته وایې، په چا یې لولې او پر چا یې تطبیقوي.

د روسانو پر ضد زموږ په خلکو او ټولنه کې څه حق او څه ناحق تبلیغات شوي دي او کېږي. حق په دې چې زموږ پر وطن یې نظامي تېری وکړ او نا حق په دې چې د روسانو نړیوالو رقیبانو د سړي جګړې په موده کې د دونیا څه عیبونه چې وو، د روسانو لمن پورې یې ونښلول. دا چې روسان د چا له نظره څه ډول دي، وې به، زه کار نه ورسره لرم، خو کله چې زه په ماسکو کې استوګن وم، په خپلو سترګو مې ولیدل چې روسان له ماشومانو او کوچنیانو سره څه ډول چلن کاوه.

په روسیه، په تېره په ماسکو کې د ډېری افغانانو تر ټولو لویه ستونزه بې اسنادي وه چې په هېڅ لاره او ځای کې له پولیسو خلاص نه و، خو همدې کافرو او ظالمو روسانو ماشومانو او کوچنیانو ته دومره درنای کاوه چې کله به له کوم چا سره کوچنی روان و، دوی به هېڅ نه ورته ویل. دوی ښه پوهېدل چې دا مهاجر دي او اسناد نه لري، خو د کوچنیانو په درناوي به یې ورته ویل چې څه تېرېږه؛ خو زما په وطن کې مسلمانان، د خدای (ج) بنده ګان او د محمد (ص) لارویان هم ځان ته وایې؛ خو له ماشوم او کوچني سره داسې چلن کوي لکه په دا پاسني عکس کې یې چې ګورئ، اوس نو خپله نوم او جمله ورته ولیکئ چې دا له ماشومانو او کوچنیانو سره کوم ډول تاوتریخوالی دی او ولې ترسره کېږي؟

د وطن، خلکو او کوچنیانو په درد دردېدلیو دوو فرهنګیانو نظریاتو ته پاملرنه وکړئ:

ښاغلی نعمان دوست:

«په وینو ککړ ځوان حیران ناست دی او خپلې مخې ته پر غځیدلي ماشوم یې سترګې ګنډلي دي.

د ماشوم زنه تړل شوې او په ابدي خوب ویده دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا عکس به نه دنیا ولړزوي او حتی نه نیمایي افغانستان،

نه به د جمعي د تقریر موضوع شي او نه د کومي اعتراضیه مظاهري د بینر تصویر.

دا خو فلسطینی او کشمیری ماشوم نه دی کنه؛ دا شهید لغمانی ماشوم دی.

دا د هغې جګړې سوغات دی چې څوک یې د دې دنیا د ګټو لپاره مخکې بیایي او څوک د هغې.
په وینو ککړ ګلابه!

ارام ویده شه!

ستا کلي کې هسې هم خوب او ارام نشي کیدای.

د جګړې شوقیانو!

بس دی؛ نور زما د وطن بې خواخوږي ماشومان مه وژنئ.

متل دی؛ مړی په ژړا ښه ښکاري او دوی د ژړا څوک نه لري.»

ښاغلی نثار صالح:

«حیران تللی،

ډوب دئ.

وایي تېره شپه یې لا په غاړه کې لاسونه را اچولي وه سره خندل مو، خو نن یې زني ورتړلي مخ ته یې پروت دئ.

د باندې د تکبیر ناري شروع دي،

د امارت زنده باد چیغې وهل کیږي،

ملا صاحب تر لمانځه وروسته د جهاد پر فضیلتونو اوږد بحث وکړ ویل یې هر شهید د اویا کسانو شفاعت کوي، جهاد به تر قیامته دوام لري د غازیانو لپاره یې ښه دعاوي وکړې، په لوړ اواز یې وویل:

نصر من الله و فتح قریب

د سړي تر سترګو بې اختیاره اوښکې رواني وې، مځکه و اسمان یې پر سر ګرځېدل د خپل کنډواله کور پر خوا روان سو.

نه یې دنیا غمشریکي وکړه نه پلستین...»

پر فلسطین مینو او د پردیو نه د دفاع په مورچل کې ولاړو!

فلسطین پرېږدئ،

په خپل کور، کلي او وطن کې مو توره سپې لنګه ده، د تور رنګ او تور ذهن لرونکي کوکري یې زېږولي دي، د دې غم وخورئ چې سبا تاسو ته هم خوله دراچوي.

دا ویرنه هم ولولئ چې د لغمان او لا ټول په اور او وینو ډوب افغانستان چیغې ورنه پورته کېږي:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د لغمان ویرنه

پروت په وینو کې ګلاب زما د باغ دی
دې منظر راته جوړ کړی په زړه داغ دی

د ویالو د غاړو ټول شینشوبي سره دي
وینې داسې پکې ځي ته وا اوبه دي

له توتانو ډکې ځانګې چا پرې کړي
شنه سپیدار یې د چمن ټول اره کړي

سیند ته ګورئ؛ جسدونو سره درومي
له غوڅ شویو اندامونه سره درومي

څپه پورته شي او سر پکې ښکاره شي
په ګولیو سور ټټر پکې ښکاره شي

شین لغمان مې په اورونو کې راګیر دی
په هر کور کې ژړاګانې دي او ویر دی

د غنمو په فصلونو اور بلیږي
د چنچنو بچي ولړې نه مړه کیږي

د ښارو بچي په ځاله کې سوزیږي
تور لوګي له شنه چناره پورته کیږي

غلی غلی د خپل زوی جسد ته ګوري
تښتیدلي یې له ژبې ځنې توري

یوې مور د لور جسد غیږ کې نیولی:
دا ویریږي، ځان نه یې نشم بېلولی

هلته ګوره؛ جینۍ پریوته له منډې
سره مرمۍ یې شوه سړه په سپینې تنډې

چیرته پاتې لوپټې چیرته پټې دي
تښتیدلې سرتور سر لوڅې پښې دي

غورځیدلی دلته ناوې نه سور شال دی
دومره ویره خورول په خدای وبال دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځوانه! څه کوې لوګیو ته دې پام دی؟
چې نړیږي خو همدغه زموږ بام دی

تا د خپلې باغچې ټول ګلان پرې کړي
او چړې دې په خپل قام تکې سرې کړي

راشه وګوره؛ ویشتلی دې خپل ورور دی
ویجاړ کړی دې د خپلو خلکو کور دی

ته به مړ شې ښخیدو ته به څوک نه وي
ستا په ویر کې ژړیدو ته به څوک نه وي

د جګړې د سوداګرو کار روان دی
په خندا دې، وایې څه احمقه قام دی

چې ترڅو یې عقل سر ته پورته کیږي
تر هغې زموږ دوکان په خوند چلیږي

په خپل عقل د جګړې دوکان سم وران کړه
ښاد،خوشاله په دې کار غمجن نعمان کړه

۱۴۰۰/جوزا/۳
نعمان دوست

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ